مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۳/۱۰/۲۷

یوځل بیا مطیع‌الله ویسا، خو داځل ازاد

د دې کرښو په پیل کې غواړم ووایم چې: له زندان څخه د قلم لار ټولنې مشر مطیع الله ویسا په راخوشې کېدو داسې خوښ یم لکه د خپلې کورنۍ غړی مې چې وي. هسې هم د نوې نسل د روزلو، د تړلو ښوونځیو د پرانستلو، د مطالعې د عامولو او د نجونو د تړلو ښوونځیو د پرانستلو په کار کې موږ د یوه فکر لرونکي او د یوې لارې لارویان یو؛ خو زه یې په ښکاره وایم چې د افغانستان د نوې نسل د روزلو د درانه مسوؤلیت په برخه کې هغومره چې مطیع‌الله ویسا کار کړی دی، ساری به یې هېڅ نه وي لیدل شوی.

نن (۲۰۲۳/۱۰/۲۶) په یوه سفر روان وم چې د معارف او وطن د خدمتګار ښاغلي مطیع‌الله ویسا د ازادۍ خبر مې ولوست، ډېر څه مې د ککرې له تاخانو څخه سر راپورته کړ چې وېلیکم، خو د لیکلو وسایل مې په واک کې نه و، څنګه چې خپل ټاکلي ځای ته ورسېدم، نو مې د ویسا صاحب د ازادۍ پر خبر باندې ځان یقیني کړ، وروسته ترهغه مې د دې کرښو په لیکلو پیل وکړ.

د مطیع‌الله ویسا د ازادۍ زېری مې په ټولنیزو شبکو کې ولوست، خو کله مې چې بي‌بي‌سي پښتو پاڼه پرانستله، هلته داسې لیکل شوي وو:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«د قلم لار ټولنې مشر او د نجونو د زدکړې فعال مطیع الله ویسا د طالبانو له زندانه ازاد شو. د هغه ورور عطاء الله ویسا بي بي سي ته وویل چې هغه د طالبانو اداري د استخباراتو په زندان کې له ۷میاشتو تېرولو وروسته نن پنجشنبه (اکتوبر ۲۶مه) ماسپښین په کابل کې ازاد شو.
عطاء الله ویسا وویل ورور یې د محکمې له پرېکړه وروسته ازاد شو او په زندان کې اووه میاشتې یې د هغه په حق کې کافي وبللې. نږدې یوه میاشت وړاندې یوې سرچینې بي بي سي ته ویلي وو چې مطیع الله ویسا دوسیه محکمې ته استول شوې ده.
د نوموړي په حق کې د طالبانو د محکمې د پرېکړې جزئیات لا نه دي په ډاګه شوي، خو وړاندې طالبانو ویلي وو چې هغه "خپلسري فعالیتونه" کول او "د نظام ضد هڅونې" یې درلودې، ځکه ونیول شو...»

د ۲۰۲۳ ام کال د مارچ په اتهویشتمه د مطیع‌الله ویسا د نیول کېدو خبر میډیا خپور کړ، دې خبر پورې اړوند غبرګونونه زښت ډېر او تند و، خو تر څو ورځو وروسته یې څېړه لکه تل په ارامېدو او ورکېدو شوه. خو د ویسا د زنداني کې نه بیا تر راخوشې کېدو پورې داسې خلک او مؤسسې هم وې چې د مطیع‌الله ویسا د ازادۍ غږ یې جګاوه او ورکېدو ته یې نه پرېښود.

د مطیع‌الله ویسا له نیول کېدو نه وروسته، د نوي نسل د روزلو د نهضت د یوه همکار په توګه ما د ده د راخوشې کېدو په پار ما خپل غږ جګ کړ او دوې مقالې مې خپرې کړې:

ـ خدمتګاران په زندان کې، قاتلین او خائنان په ګلستان کې،

ـ د مطیع‌الله ویسا د بند کیسه اوږده شوه (د خلکو راتلونکې په تیارو کې که په رڼا کې؟)

د لومړۍ مقالې په یوه برخه کې ما داسې لیکلي وو:

«نن (۲۰۲۳/۰۳/۲۸) میډیا خبر ورکوي چې د تعلیم د برخې سرسپارلی سرتېری او قهرمان، د قلملار ټولنې مشر مطیع الله ویسا یې توقیف کړی دی...

ټول ولس او ټولو نړیوالو ته مالومه ده چې د مطیع الله ویسا د فعالیتونو موخه څه ده. ده یو ځل په ډېرو لنډو جملو کې خپل هدف داسې څرګند کړی و:

«راځئ تعلیمي انقلاب راولو،
د هیواد د ټولو ستونزو د حل لاره یوازې تعلیم دی،
راځئ هر افغان ماشوم د ښوونځي خاوند کړو، ترڅو د هیواد او ولس آینده وژغورو.»

کتاب ویشل، د کتابتونونو جوړول، د ښوونځي زدکونکو ته د قرطاسیه او بکسې رسول، هغو ته د زدکړو زمینه برابرول او تر ټولو ستر ارمان دا چې د ټول افغانستان باسواده کېدل، د دې کارونو کوم ځای منفي اړخ او منفي پایښت لري چې دی زندان ته لېږل کېږي؟
... زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زماني له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!
د معارف په برخه کې د مطیع الله ویسا او د قلملار ټولنې د فعالیتونو یوه موخه هم همدغه پاسني اصل ته کار کول دي او دا د نوي نسل په روزلو او د وطن په ابادۍ کې هغه بنسټیز عمل دی چې مطیع الله ویسا تل کار ورته کړی دی، دی نو اوس د څه په وجه توقیف او زندان ته لېږدول کېږي؟»

د مطیع‌الله ویسا له توقیف نه پنځوس ورځې وروسته ما بیا غږ جګ کړ او د «د مطیع‌الله ویسا د بند کیسه اوږده شوه (د خلکو راتلونکې په تیارو کې که په رڼا کې؟)» ترسرلیک لاندې مې بله مقاله ولیکله چې یو شمېر هېرجنو خلکو ته ورپه یاد کړم چې د معارف یو خدمتګار او د نوي نسل د روزلو یو سرسپارلی سپاهي به ترڅو پورې په بې برخلیک ډول په بند کې پروت وي؟

د یادې مقالې په یوه برخه کې ما داسې لیکلي وو:

« د مطیع‌الله ویسا د بند کیسه اوږده شوه، ده د تړلو ښوونځیو د پرانستلو لپاره هلېځلې کولې، خو واکدارانو د زندان تیارو ته ولېږه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځيني خلک داسې فکر کوي چې د افغانستان خلک نا شکره او ناسپاسه دي او هرڅه ژر هېروي او د همدې هېرولو د پاليسۍ په دايره کې د مطيع‌الله ويسا د زنداني کېدو قضيه هم د خلکو هېره شوې ده، خو زه داسې فکر کوم چې خبره به دغسې نه وي، د عامو خلکو څه له لاسه کېږي، که څه ووايي او خپل نظر څرګند کړي، ښايي په خوله ووهل شي، خو کوردننه او بهر شته داسې خلک چې مطيع‌الله ويسا يې نه دی هېر، د هغه د خلاصون له پاره يې غږ جګ کړی دی او خپل نظريات يې څرګند کړي دي، خو له بدهشامته چې نوي واکداران په خپل دريځ او پاليسۍ باندې کلک ولاړ دي، نه د خپلو مني او نه هم د پرديو څه اوري...»

د مطيع الله ويسا د بند په اعتراض او د راخوشي کېدو په موخه يې د افغانانو تر څنګ، ځينو بهرنيو مهمو اشخاصو او مؤسسو هم خپل غږ جګ کړی دی، چې د ساري په ډول د نامتو فلمي لوبغاړې او د بشري حقونو فعالې انجلينا جولي نوم د ځانګړې پاملرنې وړ دی. انجيلينا جولي د تعليم مبارز مطيع الله ويسا ته د مېنې، همدردۍ او اميدونو يو ډک خط ليکلی، دا يې د ليک متن دی:

Angelina Jolie

Matiullah Wesa
Afghanistan

15th August 2023

Dear Matiullah,

I am one of many friends of Afghanistan who followed with shock the news of your arrest and detention.

I know that you have dedicated over a decade of your life to helping Afghan children, particularly in rural areas, to have access to books and the means and the opportunity to go to school. I am aware that you continue the legacy of your late father who carried out similar work on behalf of Afghan children.

Like you, I know of the limitless potential of the young people of Afghanistan, the richness of your culture, and how much Afghan children and youth can contribute to the future of their country and to our world.

Like you too, I hope for a day in which every child in Afghanistan is able to go to school, college or university, and to contribute freely to a peaceful Afghanistan that can prosper in every way.

We have not yet had a chance to meet, but I hope we will soon. I dream of returning to Kabul and sitting with you and your family, friends and colleagues dedicated to helping Afghan children to achieve their potential.

I add my voice, with humility, to those of everyone calling for your release, so that you can continue your important work, and for the lifting of all restrictions on education for girls.

Teachers, journalists and human rights defenders have no place in Afghanistan's prisons. You belong in your communities, where you do so much good for Afghan people.

I thank you for everything that you have done – and will go on to do, I hope – to support equal access to education for every single Afghan child.

Please know that you are not forgotten. As the proverb says, "every dark night will end with a light morning".

With respect, and in solidarity,

Angelina Jolie

«ګران مطيع الله ويسا،

زه د افغانستان د ډېرو خواخوږو ملګرو د ډلې څخه يوه يم، چې ستاسې د نيول کېدو خبر مې په ډېر حيرانتيا سره ترلاسه کړ.

زه پوهېږم چې تاسو د خپل ژوند تر يوه لسيزه زيات وخت د افغان ماشومانو سره په ځانګړې توګه په کليوالو سيمو کې، کتابونو ته د لاسرسي او ښوونځي ته د تګ لپاره د وسايلو او فرصتونو د برابرولو لپاره وقف کړې دی. زه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خبره یم چې تاسو د خپل پلار هغه فکري لارې ته ادامه ورکوئ چې د افغان ماشومانو په استازیتوب ورته کار کولو له هیلو سره وفات شو.

ستاسو په څیر زه د افغانستان د ځوانانو د بې حده ظرفیت او ستاسو د کلتور د بډایني په اړه پوهیږم .چې افغان ماشومان او ځوانان د خپل هیواد او نړۍ په راتلونکي کې څومره وندې لرلای شي ستاسو په څیر زه د یوې داسې ورځې خوب وینم چې د افغانستان هر ماشوم وکولای شي ښوونځي او پوهنتون ته ولاړ شي او په یوه سوله ییزه افغانستان کې چې په هره برخه کې سوکاله وي، په آزاده توګه وندې واخلي.

ما ته تر اوسه دا چانس نه ده برابر شوی چې تاسې د نږدې وګورم، مګر زه هیله لرم چې په نږدې راتلوکې کې دې وګورم. زه هیله لرم چې کابل ته راستنه شم او له تاسو او ستاسو کورنۍ، ستاسو ملګرو او همکارانو سره یوځای ناسته ولرم چې د افغان ماشومانو سره د هغوی د وړتیاوو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړو.

د ټولو هغه کسانو سره یوځای چې ستاسو د خلاصون او د نجونو لپاره د زده کړې په اړه د ټولو بندیزونو لرې کولو غوښتنه کوي یوځای خپل اواز پورته کوم تر څو تاسې ښېرته د دې جوګه شئ چې خپل مهم کار ته دوام ورکړئ.

د افغانستان په زندانونو کې ښوونکي، خبریالان او د بشري حقونو مدافعین ځای نه لري. تاسو او د مدني حقونو ټول هغه فعالان چې پرته له کوم تور په زندان کې ساتل شوي یاست، ځای مو ستاسو پخپله په ټولنه کې ده، چیرته چې تاسو د افغانانو لپاره ډیر ښه کارکوي.

زه له تاسو څخه د هر هغه څه لپاره مننه کوم چې تاسو یې کړي او یا یې کولو ته دوام ورکوي، زه هیله لرم چې د هرې افغاني نجلۍ او هلک لپاره تعلیم ته د مساوي لاسرسۍ ملاتړ وکړل شي.

مهرباني وکړئ پوه شئ چې تاسو هیر شوی نه یاست. لکه څنګه چې متل دی، "هره توره شپه په رڼا سهار پای ته رسیږی. "

په درنښت او یووالی په هیله.

انجیلینا جولي.
۱۵ اګست ۲۰۲۳»

په هرډول چې و، د مطیع‌الله ویسا بندېکېدل، د افغانستان د معارف او د تعلیم پلویانو لهپاره یوه غمیزه وه او د پوهنې د عامولو له ډګره د ده غایبول یوه لویه تشه وه. د مطیع‌الله ویسا ازادېدل او د خپلې کورنۍ تودې غېږې ته ببرته ورګرځېدل، د ټولو لپاره لویه خوشحالي ګڼل کېږي. هیله ده چې مطیع‌الله ویسا د پخوا په څېر ببرته د تعلیم د عامولو او د نوي نسل د روزلو فعالیتونو ته راوګرځي او ترپخوا لا ډېر او په جدیت سره خپل انساني او وطني کارونه پیل کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ